# د اړتیاو سره سمي مرستې
# وړاندي کوو.

International Organization for Migration
سازمان بین المللی مهاجرت
د کډوالی نړیواله اداره



## په خپله خوښه د ستنیدونکو دپاره د بیا میشته کیدنې مرستې

د بیا میشته کیدنې مرستې دهیواد د پاره څانګړی شوی لاسرسی.

fedasil
FEDERAL AGENCY FOR THE RECEPTION OF ASYLUM SEEKERS


This project is financed by

the Federal agency for the reception of asylum seekers (Fedasil)


## د کډوالی نړیوال سازمان (IOM)

**د کډوالۍ نړیوال سازمان په افغانستان کی۸ دفترونه لري:**

کابل، پکتیا، کندهار، هرات، بلخ، بدخشان، ننګرهار، بامیان


ای او ایم بیلجیم
ریمونتویور ستراټ ۴۰؛ برسلس ۱۰۰۰
تیلفون شمیره: ۰۰۹۳ ۷۰۰ ۱۸۵ ۹۶۳
بریښنا لیک: http://belgium.iom.int/

02/287.74.28 or 02/287.74.29

هغه افغانان چې په خپله خوښه او یا هم په زور له کوربه هیوادونو څخه د ۱ جولای ۲۰۱۲ کال څخه وروسته را ستنیږي، کولای شي چې د کډوالی نړیوالی اداري سره په افغانستان کی اړیکي ټینګی او د بیا میشته کیدنی مرستي غوښتنه وکړي.

آی او ام په نظر کي لري چې د بیا میشته کیدنی د مرستو د لاري وکولای شي چې افغانستان ته له راستنیدنی سره سم د راستنیدونکو لومړیتوبو نه او اړتیاوې په نښه کړي.

په کابل کی د آی او ام دفتر به د دغو مرستو اداره د راستنیدونکو سره په سلا او مشوره او د اروپایی اتحادیی د غړو انستیتوت په بلجیم، فرانسی، سویدن او هالند کی په ګډه همکاری پر مخ بوزي.

هغه افغانان چې غواړي په خپله خوښه افغانستان ته ستانه شي تر هغه افغانانو چې په زور راستانه کیږي ډیري مرستي ترلاسه کوي. په خپله خوښه راستنیدونکي به د ښه راغلاست له مرستو برخمن شي او د اړتیا په صورت کي کولای شي چې خپل اصلی هستوګن ځای ته د لیږد مرستي تر لاسه کړي.

## تر راستنیدني وروسته مالومات، مشورې او ورپیژندنه

جامع او پراخه مشورې به ورسته تر راستنیدنې د آی او ام د مجربو کارکوونکو له خوا په افغانستان کي تاسو ته درکړل شي. د آی او ام کارکوونکي به راستنیدونکو او د هغوی فامیل ته د بیامیشته کیدې د امکاناتو په اړه مالومات او د فردی



طرح په پلان کی مرسته وکړي البته د دوی د اړتیا او تجربی په نظر کي نیولو سره .

## لنډ مهاله هستوګنه

د اړتیا په صورت کي د لنډ مهاله هستوګني برابرول د آی او ام په هرکلي مرکز کي تر څو تاسو وکولای شی چې یوه د حل دایمي لاره ومومی.

## روغتیایي مرستي

د اړتیا په صورت کي روغتیایي ارزونه او مشورې به د آی او ام د ډاکتر له خوا تاسو ته وړاندي شي. که چیرته درمل ته اړتیا وي نو تاسو به مربوطه روغتیایي مرکزونو ته ورو پیژندل شی.



## د وظیفې په اړه مشوره

ددی انتخاب د لاري آی او ام کولای شي تاسو د خپلو شریکانو د شبکې د لاري ممکنه کارګومارونکو ته ورو پیژني. که چیرته مو دنده ترلاسه کړه نو ستاسو د بیامیشته کیدنې مرستي به د اضافي معاش په بڼه حواله شي.

## تعلیمي او مسلکي روزنه

آی او ام د خپلو شریکانو په مرسته تاسو ته راز راز تعلیمي او مسلکي روزني وړاندي کوي. مسلکي روزني ستاسو د کاري تجربې، تعلیم، دلچسپي یا د بازار د غوښتني پر بنسټ پیژندل کیږي. د روزنې د بشپړیدلو وروسته به آی او ام له تاسو سره د یو مناسبي دندې د لټون په اړه مرسته وکړي.



که چیرته تاسو د خپل شخصي کاروبار هوډ لرئ نو آی او ام به له تاسو سره د یوه ښه کار په ګوته کولو کی مرسته وکړي. د تجارت غوراوئ به د نور شیانو تر څنګ ستاسو په پخوانی تجربې او ستاسی د ستنیدنې په سیمه کې د نورو سوداګریو پوری تړاو لری.

## حقوقي مرستي او لاربښوونه

که چیرته تاسواسناد په لاس ونلری نو آی او ام به مو اړونده ادارو ته ورو پیژني او د اسنادو د لاسته راوړلو مصارف به د تاسو د بیا میشته کیدنی له بودیجې پرې شي.

## کورنی موندنې په اړه مرسته

آی او ام به له تاسو سره مرسته وکړي تر څو خپله کورنی ومومی او د اړتیا په صورت کې به مو مربوطه ادارو ته ورو پیژني.

## یوازي ماشوم (UAM)

د آی او ام دنده ده چې ترهرڅه د مخه لومړی باید د ماشوم فامیل وموندل شي او بیا ورسته د بیامیشته کیدنی مرستي پیل کړي. هغه ماشومان چې په خپله خوښه راستنیږي د هرکلي د مرستو څخه به هم برخمن شي.

په بنیادي ډول نغدي معامله د آی او ایم او راستنیدونکو ترمینځ نه ترسره کیږي، بلکه مالي مرسته نیغ په نیغه ځانګړو د خدمتو وړاندي کونکو ته ورکول کیږي